نارينه مومن او ښځينه مومنه تر هغه پورې په خپل نفس، اولاد او مال کې امتحانيږي، تر څو چې له الله سره مخ شي او هېڅ ګناه پرې نه وي

له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: " نارينه مومن او ښځينه مومنه تر هغه پورې په خپل نفس، اولاد او مال کې امتحانيږي، تر څو چې له الله سره مخ شي او هېڅ ګناه پرې نه وي".

[حسن] [الترمذي او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: د مؤمن سړي او مؤمنې ښځې - په روغتيا، بدن، اولاد، ناروغۍ، مرګ، د اولاد نافرمانۍ او نورو حالاتو کې - مصيبت او امتحان هېڅکله نه جلاکېږي، او د هغه په مال کې غريبي او د تجارت له منځه تلل، مال يې غلا کېدل، معيشت په ټپه درېدل د رزق تنګوالی او داسې نور، تر دې چې په دې مصيبتونو سره الله تعالى د هغه ټول ګناهونه او تېروتنې وبخښي او کله چې د الله سره مخ کيږي، نو دی به له ټولو هغو ګناهونو پاک شوی وي چې پخوا يې کړي وو.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3159